**د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غونډې ته د اغلې کریمه بنون څرګندونې**

**۲۰۲۳، د سپتمبر ۲۶مه،**

**د نقل قول په صورت کې دې د وینا اصلي بڼې ته مراجعه وسي.**

د غونډې درنو ګډوالو!
مننه چې د څرګندونو وخت مو راکړ.
زه نړیواله حقوقي کارپوه کریمه بنون یم او نږدې درې لسیزې کېږي چې د افغان مېرمنو د بشري حقوقو له مدافعانو (WHRDs) سره کار کوم. دغې شورا ته تر دې مخکې هم ډېری افغانې مېرمنې د هغه حالت په اړه غږېدلې دي چې ښځې یې تر اوسه په افغانستان کې د طالبانو تر تسلط لاندې تېروي، زه دلته نن یوازې پر څېنو هغو ټکو تمرکز کوم چې نړیواله ټولنه او امنیت شورا یې باید په اړه غبرګون وښيي.

تاسې ته مالومه ده چې طالبانو د ۲۰۲۱ له اګستې تر اوسه، د پنځه شپېته بېلابېلو فرمانونو په صادرلو سره افغانې مېرمنې د ژوند له ګڼو لومړنیو بشري حقوقو بې برخې کړې. له زده‌کړو، کار، په خلاصه ډول تګ راتګ، لومړنیو روغتیایي اسانتیاوو او په ټولنیز ژوند کې له برخې اخیستلو د افغانو مېرمنو محرومېدل د دغو فرمانونو پایله ده. واک ته د طالبانو تر بیا رسېدو وروسته دغې ډلې ګڼ شمېر هغه افغانې مېرمنې شکنجه او زنداني کړې دي چې د بشري حقوقو په دفاع کې یې د طالبانو د اپارتاید پر ضد مبارزه کوله.
د طالبانو واکمنې د ملګرو ملتونو له منشور سره ښکاره په ټکر کې او نړیوال امنیت ته جدي ګواښ دی. په دې وروستیو کې په افغانستان کې د ښځو د ځاوژنو زیاتې شوې شمېرې بوږنوونکې دي، خو وضعیت ته په کتو، همدا تمه کېده.

د غونډې درنو ګډونوالو!
داسې ورځ به نه وي چې د افغانستان له یوې برخې دې له بېلابېلو قومونو ښځې ما ته له ورباندې روان ناورین څخه سر و نه ټکوي. یوې تخاري ازبکې خو لا راته وویل چې یو وار خو یې لا ځانوژنې ته نیت و. دغې مېرمنې چې پخوا یې له یوې مدني ټولنې سره کار کاوه، راته وویل، "ډارېږم چې طالبان به اخېر د نارینه له اجازې پرته، د ښځو په ساه اخیستلو هم بندیز ولګوي."
یوې هزاره مېرمنې وویل، "هره لحظه د طالبانو له خوا د هزاره‌افغانانو د سر و مال د تالا کېدو له ګواښ سره عمر تېروو." یوې بلې مېرمنې چې په کابل کې یې احتجاج کاوه وویل، "طالبانو موږ د خپلو کورونو بندېوانې کړې یوو. دا کوم حالت چې موږ یې تېروو، تدریجي مرګ دی. له موږ سره هماغه څه روان دي چې له خلکو سره تر جنسیتي اپارتاید لاندې کېږي."

ډېری افغانې مېرمنې بیا د څېنو نړیوالو څېرو هغو هڅو اندېښمنې کړې دي چې د طالبانو د جبر پر ټولو پالیسیانو سترګې پټوي او بیا بیا نړۍ ته طالبان او دا هر څه عادي برېښوي. له همدې امله څېنو افغانو مېرمنو نوا نیولې او له نړۍ غواړي چې نه یوازې دې پر افغانانو روان حالت د اپارتاید په توګه په رسمیت وپېژني، بلکې د مخنیوي لپاره دې یې متې رابډوهي. نړیوالې ټولنې همدا یوه خبره نیولې چې د افراطیانو پر ضد به مبارزه کوي، اما په عمل کې بیا د همدې مبارزې د لومړۍ کرښې د هغو افغانو مېرمنو په ملاتړ کې پاتې راغلې چې دا اوس هم هلته په سوله‌ییزه مبارزه اخته دي.

که څه هم امنیت شورا بیا بیا پر طالبانو غږ کړی دی چې له واکه دې نوره ناوړه ګټه نه اخلي، خو دغه شورا له ډېرو نورو لارو هم کولای سي چې طالبان د ښځو او نجونو د تروړلو سویو حقوقو بازخواست ته کښېنوي او دا کار باید وسي. زه نن دلته د دې لپاره راغلې یم چې پر امنیت شورا غږ وکړم چې طالبانو ته دې په عمل کې وروښيي چې نړۍ ته د دوی مسلط جنسیتي اپارتاید د منلو وړ نه دی.

په جون کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي‌او د ښځو او نجونو پر وړاندې د جنسیتي تبعیض پېښو ته د رسېدو لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې ډلې پر نړیواله ټولنه غږ وکړ چې هر څنګه کېږي له نړیوالې حقوقي دیدګاه دې دغه روان جنسیتي اپارتاید چې دوی "د تبعیض، توپیر، توهین او د ښځو او نجونو د محوه کولو پلان سوې بڼه" بللې، مخنیوی وکړي.
محترم جنرل سکرتر، د بشري حقوقو عالي شورا، د ملګرو ملتونو د ښځو د برخې اجرایيه رییس او د امنیت شورا د څېنو غړیو په ګډونو بېلابېلو هېوادونو هم دغه اوسنی حالت "جنسیتي اپارتاید" بللی دی. د بشري حقوقو په شورا کې سوېلې افریکا نه یوازې د طالبانو حاکمیت جنسیتي اپارتاید بللی، بلکې پر نړیواله ټولنه یې غږ کړی چې له دغې موضوع سره دې هم د توکم‌پرستي د مخنیوي

د قانون په خبر برخورد وکړي. د غونډې درنو ګډونوالو! زه نن راغلې یم چې له نړیوالې ټولنې غوښتنه وکړم چې د طالبانو د حاکمیت، چې د بشر په تاریخ کې په سیستماټیکه توګه د ښځو د محکومولو تر ټولو ناوړه بېلګه ده، پر ضد له غندنو مندنو تېره سي او په عمل کې څه وکړي.

واک ته د طالبانو تر بیا رسېدو وروسته چې تر اوسه د دوی پر ضد څه روان دي، دغه چارې کوم درد نه دوا کوي. زما په ګډون، د ښځو د بشري حقونو ګڼ شمېر افغانې فعالانې او د بشري حقونو نړیوالې کارپوهانې په دې باوري دي چې که د طالبانو حاکمیت د جنسیتي اپارتاید په توګه وپېژندل سي او هماغسې چلند ورسره وسي، پایلې به یې ډېرې ګټورې وي. موږ کولای سو دغه دیدګاه د اپارتاید د شته قانون په تفسیر او هم د جنسیتي اپارتاید د نړیوال قانون په رڼا کې لا قوي کړو.

ما په تېر ډسمبر کې د بشري حقونو له افغانو مدافعانو سره تر ګڼو مشورو وروسته، "په افغانستان د جنسیتي اپارتاید په مخنیوي کې د نړیوالو مسوولیت"، په نامه خپل یو تحقیق خپور کړ. هلته مې د افغانستان روان وضعیت د جنسیتي اپارتاید په توګه تحلیل کړی او پر حقوقي پایلو یې غږېدلې یم.

په همدې خاطر باید وپوهېږو چې اپارتاید له قانوني اړخه څه مانا لري او پایلې یې څه کېدای سي؟

د نړیوال قانون په اساس اپارتاید هغه حالت ته وویل کېږي چې تبعیض پکې د حکومت په سیستم اوښتی او سیاست پکې د امتیازي سلوک مانا ولري. د روم د اساسنامې (۷)(۲)(ح) ماده چې د اپارتاید تعریف پکې سوی، که فقط "جنیستي" ټکی ور زیات کړو دې پایلې ته رسېږو چې :

"ناانساني چارې... د یوه رژیم په چوکاټ کې د یوې ډلې هغه نارواوې دي چې پر یوه یا څو ډلو انسانانو یې د خپل واک د دوام لپاره کوي."

اوس که د افغانستان اوسني حالت ته د بشري حقونو له عادي لیدلوري وکتل سي چې حکومت پکې د بشري حقونو د ساتنې مسوول بلل سوی، ځکه کومې پایلې ته نه رسېږو چې دلته داسې نه ده چې طالبان یوازې د ښځو د حقونو په ساتنه کې پاتې راغلي، بلکې پر ښځو جبر یې د حکومت سیستم او د ټولې فلسفې مرکزي برخه جوړوي. له اوسني وضعیت څخه د مثبت بدلون تمه یوازې هغه وخت کېدای سي چې پر وړاندې یې یو مستقل او اصولي نړیوال غبرګون وښوول سي، د ښځو، سولې او امنیت اړوندو لسو قطعنامو ته توجه وسي، بېلابېل هېوادونه یې ملاتړ وکړي او دغه شورا بیا همدغه نړیوال غبرګون رهبري کړي.

جنسیتي اپارتاید او د جنسیت په اساس د چا ازار او ځورول که څه هم یو له بله بېل ښکاري، خو سره تړلي دي. په افغانستان کې هم د طالبانو د جنسیتي اپارتاید تر حاکمیت لاندې خلک د جنسیت او توکم په اساس ځورول کېږي. د جرمونو نړیواله محکمه هم اوسنی وضعیت ارزوي او کېدای سي د ځینو مجرمانو پر وړاندې اقدامات هم وکړي چې دا به یو نېک ګام وي، خو په اوسني حالت کې په انفرادي توګه بازخواست که څه هم مهم دی، اما په یوازې ځان د دې جوګه نه دی چې روان بحران وربانډې پیمانه کړو.

اوسني وضعیت ته د اپارتاید په سترګه د کتلو یوه لویه ګټه دا هم ده چې نه یوازې د عاملانو په اړه به یې غبرګون ښوول کېږي، بلکې دا په دې مانا ده چې لکه د سوېلي افریکا د توکمپرستي په قضیه کې، دلته به هم د ملګرو ملتونو هیڅ غړی هېواد نه سي کولای له طالبانو سره رادرشه ولري، یا نړۍ ته د طالبانو ناکردې د عادي پېښو په توګه وښيي، بلکې اړ به وي چې د اوسنيوضعیت پر ضد کوټلي ګامونه پورته کړي. په دې اساس، تر څو چې د طالبانو دغه جنسیتي اپارتاید حاکم وي، په رسمیت به نه پېژندل کېږي او نه به هم په ملګرو ملتونو کې ځای لري. دا کار به د نړۍ په ټولو برخو کې هغو ډلو ته چې طالبانو ته ورته فکر لري، ښکاره پیغام ورسوي چې نړیواله ټولنه د ښځو د حقونو له تروړونکیو سره غاړه نه وړي.

د جنسیتي اپارتاید د لیدلوری هدف د افغانستان منزوي کول او د بشري مرستو پارچاوي نه ده. په اصولي او عادلانه توګه بشري مرستې د خلکو د مرګ او ژوند خبره ده، خو د بشري حقونو ملاتړ او بشري مرستې باید د دې پر ځای چې یو د بل ځای ونیسي، یو بل قوي کړي.

سږکال د بشري حقونو د هغې نړیوالې اعلامیې له پنځهاویایمې کالیزې سره سمون خوري چې په روښانه ټکو پکې ویل شوي، "د ملګرو ملتونو وګړي ایمان په دې تازه کوي چې... د ښځو او نارینهوو حقونو ته به مساوي احترام لري. "
دغه سند موږ دې پایلې ته رسوي چې افغانې مېرمنې د بشر د اساسي حقونو د ساتنې تر ټولو مېړنۍ اتلانې دي چې باید ملاتړ یې وکړئ.

په همدې خاطر څو وړاندیزونه لرم؛

1. امنیت شورا او د ملګرو ملتونو ټولې اړوندې ځانګې باید داسې پرېکړې تصویب کړي چې پکې د ښځو پر وړاندې د طالبانو چلند هم د جنسیت په اساس د ځورونې او هم د پلان شوي جنسیتي اپارتاید په توګه یاد کړي. په دغو پرېکړو کې باید له دولتونو او د ملګرو ملتونو له اړونو سازمانونو وغوښتل سي چې د مجرمو کسانو په نیولو سربېره، د نړیوال قانون د دغه پراخ تنقیض مخه ونیسي.
2. اوس چې د نړیوال قانون د تقویت پر خاطر د بشر پر وړاندې د شویو جرمنو پر معاهده کار روان دی. دا زموږ لپاره یو مناسب فرصت دی چې د شورا غړي او اړوند هېوادونه باید ځان ډاډه کړي چې دغه معاهده نه یوازې جنسیت ته ځواب ورکوونکې ده، بلکې جنسیتي اپارتاید هم په ځان کې رانغاړي.
3. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) چې کلیدي رول لري، باید په ټولو اړوندو برخو کې د ښځو د حقونو خوندیتوب یقیني کړي. په دې سربېره، د وضعیت د ارزولو او پېشبیني په خاطر چې د افغانستان په اړه څومره نړیوالې غونډې او سمینارونه جوړېږي، په ټولو کې باید د ښځو د حقونو حمایت او دوی ته د ګډون لومړیتوب ورکولو سي.

د غونډې درنو برخهوالو!
خپلې خبرې د ښځو د بشري حقونو د یوې افغانې مدافع په دې خبره را نغاړم چې راته ویل یې، د انسان بقا په هیلهمندي کې نغښتې.
دغه اجتجاجونه او مظاهرې چې افغانې باتورې مېرمنې یې د خپلو حقونو لپاره پر سړکونو او لارو کوي، ختمېده نه لري. دوی د برابري او مساوات لپاره د مرګ خطر پر ځان منلی، امنیت شورا هم باید په همدومره شجاعت او مېړانه د دوی ملاتړ وکړي.

مننه